تل افغان
www.talafghan.com

بســـــمل

۲۰۱۱ـ۲ـ۰۴

# مرم له هر شهيد سره

هم غله کورته راولي هم ويښ له خوبه ماکړي
هم مې ښه پرې لوټ کړي هم په ما باندې ژړا کړي



نه يم ګيله من له بل چا سرې لمبې خو تا راوړې
لراوبر سوځيږي ولسونه واويلا کړي



دا څنګه ياري ده په تدبير يې نه پوهېږمه
هم مې کلک په زلفو تړي هم ټينګه خوله راکړي

تل افغان
www.talafghan.com
خبرواله، تاریخي، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه



راغلل د اسمان له سره د اسې ښه زړه سواند خلګ
خپل ځان يې هېر کړی غواړي موږ خواران بسيا کړي



موږ ليږي جنت ته خو پخپله يې زړه نه کيږي
ځوک په واسکټو ځوک په بموکې په هوا کړي




حورو او غلمانو ته شېخ ډېره اوږده کړې وه
اوس يې جام په لاس کې له مينا سره ګډا کړي

تل افغان
www.tolafghan.com
خبري، تحلیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه



اوږد مزل يې لنډ کړ کونج يې پرېښود اوس مزې کوي
نه دچا عزت ګوري نه هم په چا پروا کړي



ښه جهاد ؟؟مو وکړ شاباش ژر ژر بېرې وخربيئ
ای د دین دښمنو لایزال به مو رسوا کړي



څنګه خوند يې درکړ له پرديو پاچا هي غواړئ؟

اه ديتيمانو به مو يو يو پو پنا کړي

تل افغان
www.talafghan.com



مرم له هر شهید سره په هره کونډه ویرکوم

څو به دا تقدیر بسمله مونږ سره جفا کړي





درنو لوستونکو !

پورتنی شعر مې یو څه په بیړه ولیکه که کومه سهوه پکې وي ما وبښئ همدا اوس په جرمني کې د شپې له دریو بجو وروا وښتې ستړی او ستومان یم خو د دې شعر په لیکلو سره مې روح یو څه ارام وکړ هیله ده چې ستاسو هم خوښ شوی وي.

په درنښت